اووم لیکچر
(7th Lecture)

# تصوف او ادب:

- ځیني، په ځانګړي توګه د لویدیځي نړۍ له تصوراتو څخه اغیزمند شوي لیکوال او پوهان، داسي فکر کوي چي تصوف د ادب موضوع نه ده، د دوی په اند/ خیال د ادب تعلق یوازي له جمالیاتي او تخلیقي جبلت سره دی، او د تصوف تعلق له مذهب سره ځکه تړي، چي په دې کښي اختراع او تخلیق امکان نه لري.

- که څه هم تصوف د اخلاقیاتو پلوي کوي، چي د ښائیست یو ښکل دی او جمالیات د تخلیق بنسټ وي. ښه اقدار د جمال یو عکس وي او د دوی پرچار/ خپرونه د جمالیاتو پرچار وي.

# تصوف او ادب:

- لوړ یاد شوي لیکوال داسي فکر لري، چي جدید ادب مذهب شاته پرېښی دی.
- خو د هري ژبي لویو شاعرانو په خپله شاعري کښي و دواړو ته ځای ورکړئ دی.

ډاکټر نفس اقبال د ادب او تصوف د باهمي ریښتې په هکله داسي لیکي:

- زموږ په شاوخوا کښي د موقعیتي او وجودي شیانو په مینځ کښي تړون د یوه باطني ربط له سوبه څخه وي.
- او شاعر د شیانو باطني ریښتې د څرګندولو سره و موقعیتي نړۍ ته نوی پراخوالی ورکوي

# تصوف او ادب:

- هر تخليقي عمل د وجدان او قوت متخيله پر مټو باندي رامينځته کيږي.
- يو صوفي هم د شاعر غوندي نه يوازي د شيانو باطني او روحاني اړيکي لټوي، بلکي د خپلي ترکيبي فلسفي په مرسته په بېلا بيلو شيانو کښي باطني ربط يا تړون پيدا کوي.
- ډاکټر نفس اقبال په خپل ياد شوي اثر کښي د تصوف دوه قدرونه ليکي:
- ۱ : عشق
- ۲ : ترک، يو شي پرېږدل يا مخ اړول،
- خو دا مادي نړۍ د تصوف دا قدرونو (عشق او يو شي پرېږدل) ته له غيرفعاليت سره تشبيح ورکوي.

# تصوف او ادب:

- د صوفي او شاعر له ژوند سره داسي اړيکې دي، چي هغوی د ژوند په شور ماشور کښې ګډ هم دي او ځيني دباندي هم دي.
- د شاعر او صوفي په نيزد دلته شيان علامتي حقيقتونه جوړ شي، او دا شيان د باهمي ريښتوله وجي يو باطني وحدت / يووالی تر لاسه کړي.
- او له دې سره هغه ژوندي حقيقتونه شي، د کوموچي د انساني ژوند سره نيغ په نيغه تعلق وي.
- تخليقي ژوند يوازي شعر او ادب نه وي، بلکې ژوند هغه وي، په کوم کښي چي د عقل او حسن او د برابري او مينې قدرونه شتون ولري.

# تصوف او ادب:

- په ژوند کښې د ښه او خیر فلسفه ډیر ارزښت لري، دا په دې چې د کائنات بنسټ پر خیر او ښیګړه باندې ولاړ دی، او د دې اقدارو له غیر موجودګې څخه ژوند یو بده بڼه اخلي.

- ښه خویونه او اقدار د ښایسته ژوند تضمین دی، او دا اقدار په تصوف کښې د ښووني او روزني برخې دي.

- او ادب هم د مثبتو اقدارو د استازیتوب له سوبه د لوړې پایې (کلاسیکل) ادب تصور کیږي.

# تصوف او ادب:

- د سینټ اګستین یوه خبره ده:
- ته دباندې مه ځه، بلکې و خپل نفس ته سر ور دننه کړه، و تا ته به صداقت در معلوم سي.
- د نفس تزکیه ا و تر خپل تسلط لاندې را وستلو ترغیب په تصوف کښې زیاته لیدل کیږي.
- د خپل نفس و ژورتیا ته د رسیدو د پاره د باطن پر خوا باندې تلل دې او فن هم د خپل باطن پر لورې د تګ نوم دی.

# تصوف او ادب:

- ځومره چې یو لیکوال د خپل نفس یا باطن په رابرسیره کولو کښي بریالی، سي، نو یو ښه متصور بلل کیږي.
- کله چې یو صوفي د خپل نفس یا باطن حقیقتونه د تورو په وسیله په تصوفي ادب کښي را څرګند کړي، نو هغه تر یو تخلیقي عمل تیریږي، او معروض یا خارج هم د داخل یو رنګ جوړ کړي.

- یو فن کار / لیکوال په تخلیقي عمل کښي څه ویني او محسوسوي یې، هغه په خپل لیک کښي تمثلوي،
- او صوفي د صحو په حالت کښي له راتللو سره لیک کوي.

# تصوف او ادب:

- ډاکټر نفیس اقبال لیکي:
- تصوف یوه قوي تهذیبي اثاثه ده، چي د دې تمثیل په ادب کښي کلاسیکي رنګ اچوي.
- تصوف د ادب د جمالیاتي کچي له لوړ ولو سره سره په دې کښي افاقیت هم پیدا کوي. دا په دې چي په کلاسیکي ادب کښي د تل (ابدیت) رنګ موجود وي.
- او په دې کښي د سیمې هیڅ بندیز نه وي.
- ډاکټر نفیس لیکي:
- تصوف و شاعري ته نوي توري، اصطلاحات او تشبیحات ورکړي دي او له دې سره یې د شاعري ساحه پراخه کړې ده.